مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۶/۰۹/۲۲

# ایا نړیوال نظم ړنګ شوی؟

په نړۍ کې د روانو جګړو او خونړیو پېښو په اړه یوه خبره چې ډېره تکراریږي، دا ده چې ګواکې نړیوال نظم ړنګ شوی دی. اویوځل بیا هرڅوک چې زور و زر لري، پر کمزوریو رابلوسي او هغه څه کوي، چې زړه یې غواړي. د دې په وړاندې نور خلک استدلال کوي، چې د بشریت په تاریخ کې تل همداسې و او ګواکې دا د بشري نړۍ ځانګړنه ده، چې د زورورو اوبه په بره خیژي. په بله ژبه نړیوال نظم هېڅکله ټینګ نه‌دی او دا یو دروغ دی، چې بشریت ځان ته ویلی. نړیوال نظم څه دی؟ شته که نه‌شته؟

د افغانانو لوی حکیم خوشال خان خټک فرمایي:

**ما چې ولید د دنیا خلق مختوری**
**قابوچي دي واره ګوري په‌تاو سیوری**
**چي یي څه د دنیا سود څه يي فایده وي**
**د خپل زړه په یرغه نیسي هغه لوری**
**یا د لېچو زور په کار دی یا د زرو**
**خوار هغه شو، چې په دواړو وي کمزوری**

تر دویمي نړیوالي جګړې روسته د ملګرو ملتونو د سازمان د جوړېدو منطق نن سبا تر بل هروخته ډېر تر پوښتني لاندې دی. داسې ښکاري، چې بشریت به هېڅکله هغه اخلاقي بلوغ ته ونه‌رسیږي، چې زورور دې د خپلو ګټو او قدرت لپاره د هغو په ترڅ کې یوشمېرهغه اصول رعایت کړي، چې د کمزوری پرمهال یې د درناوي ژمنه کړې وه.

په ننۍ نړۍ کې په دې اړه اصلي پوښتنه ډېره تاریخي یا حقوقي نه‌ده، که څه هم چې د نړیوال نظم مسئله له دې دواړو سره تړاو ولري، اصلي پوښتنه تر یوه بریده فیلوسوفیکه ده، ایا دا د انسانانو تلپاتې ځانګړنه ده، چې زورور به پر کمزوریو بلوسي؟ په دې صورت کې نو اخلاق یعني څه؟ ایا اخلاق هغه خواره دروغ دي، چې بشریت یې د کمزورۍ پرمهال ځان ته وایي؟ په انساني ټولنو کې اخلاق او عواطف کله هم په نړیوالو قوانینو بدل شوي دي؟ که هو؟ نو بیا دغه قوانین څه وخت او چا مات کړي دي؟

څنګه سیاستونه، اخلاقي فضایل، قوانین او ان ادیان د زورورو د پراختیا غوښتنې او زبرځواکۍ د توجیه او سپیناوي لپاره استخدامیږي؟

له دغه لیدلوري، هغه څه چې موږ یې نړیوال نظم بولو څه ډول یو تعریف لري؟ د نړیوال نظم د ټینګښت اړتیا اخلاقي- بشري ده؟ که په نړۍ کې د قدرتونو ترمنځ د توازن او تعادل په پایله کې قرارداد کیږي؟ او هرکله چې یو لوری بیا زور ومومي، بېرته یې ړنګوي؟ ایا دغه نظم اوس هم شته؟

که داسې وګڼو، چې نړیوال انساني ارزښتونه، بشري حقوق، ولسواکي او د ښو واکمنیو ټاکل د هر ملت او هر ولس خپله وظیفه ده او نړیوال نظم په دې کې له چا سره مرسته نه‌کوي، دا د افغانستان غوندې ټولنو لپاره څه ډول پیغام لري؟ اصلاً په روان نړیوال بحران او مطلقه بې‌نظمۍ کې افغانان چې تل د زورورو تر منځ د لویو لوبو، سرو او تودو جګړو قربانیان دي، باید څه وکړي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دا او دې ته ورته نورې پوښتنې نن سبا د دریېمې نړۍ له هر اوسیدونکي سره شته. دریېمه نړۍ مو ځکه ورته وویل، چې د نړیوال نظم د ماتېدو لومړني قربانیان همدغه هېوادونه دي، مختللي او ماړه هېوادونه چې پوځي ځواک هم لري، د نړیوال نظم له ړنګېدو څخه لږ زیان ویني او ان داسې ښکاري چې دوی د خپلو ګټو لپاره په لوی لاس دغه نظم مختل کوي. غم د بېوزلو او روسته پاتې هېوادونو دی، چې لا هم ډېر مزله ته اړ دي، چې په نړیوال نظم کې د ګټو او حرص په دغه لوبه کې ځانونه وساتي. په افغانستان غوندې ټولنو کې د خلکو ویښتیا، ملي یووالي او پر خپل برخلیک د واکمن کېدو اراده د هغو هڅو پیل ګڼل کېدلای شي، چې د هغو په پایله کې په یوه پیاوړې ارادې ځان د دغو سیالیو او نړیوالو سیاسي و امنیتي بداخلاقیو له زیان څخه وژغورلای شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ